بسم الله الرحمن الرحيم

خبر او تبصره

# محمد بن سلمان د سعودي حاکمانو په هغه اوږده لېست کې دی چې د امریکا د ګټو لپاره خدمت کوي



خبر:

د سعودي د پاچا ولیعهد محمد بن سلمان په دې ورځو کې د امریکا لخوا سخت په شا ټپول کېږي او امریکایي چارواکي یې ستاینه کوي. داسې ښکاري چې محمد بن سلمان د خپلو سلفو غونډې د امریکا خوشالول خپله دنده بللې ده. نوموړی په دې ډېره بې شرمۍ سره اعتراف کوي چې عربستان د سړې جګړې پر مهال د امریکا امنیتي ګټې خوندي کولې.

**تبصره:**

محمد بن سلمان د واشنګټن پوسټ له ورځپاڼې سره په خورا څرګندو ټکو ویلي دي چې د سړې جګړې پر مهال عربستان د غرب په غوښتنه د شوروي اتحاد د پرمختګ پر وړاندې وهابېزم جوړ کړ. د محمد بن سلمان دا بې ساری اعتراف د دې څرګندونه کوي چې د سعودي په لاس باندې جوړ شوی وهابېزم د سړې جګړې پر مهال د کمونېزم د ایدیولوژۍ د مخنیوي لپاره د غرب د ځواک لپاره څنګه وکارول شو. محمد بن سلمان دا مني چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې دوی خورا زیاتې مدرسې او مسجدونه جوړ کړل او د دې شمېر دومره زیات و چې سعودي دولت د دوی په څارنه کې پاتې راغی.

همدارنګه محمد بن سلمان په صراحت سره دا هم وایي چې په تېره ۸۰یمه لسیزه کې پاکستان د شوروي اتحاد پر وړاندې د غرب د ګټو د تامین لپاره خدمت کاوه. دا څرګنده او مشهوره خبره ده چې د پاکستان مدرسې او مسجدونه د عربستان په مالي مرسته باندې چلېدل او دوی د وهابېزم ایدیولوږي د دې لپاره جوړه کړې وه، چې د جهادي سرتېرو یو لښکر جوړ کړي او په افغانستان کې د شوروي اتحاد پر وړاندې یې وجنګوي. محمد بن

سلمان سعودي - پاکستان د سړي جګړې پر مهال د کمونېزم د نسکورولو لپاره د غرب د پلان د مرکزي رول ادا کوونکي په توګه یاد کړل.
د امریکا د پخواني ولسمشر جیمي کارټر د ملي امنیت سلاکار بریژنسکي د هغه بنسټ رهبري کوله چې غوښتل یې شوروي اتحاد ته ماتې ورکړي او اوراسیا سیمه د جیوپولیټیکې مبارزې د محور په توګه وپېژني. نو دا د حیرانتیا خبره نه ده چې سعودي عربستان، ایران، افغانستان او پاکستان د شوروي اتحاد سره د پوځي جګړې د میدان لپاره غوره شوي وو.
بریژنسکې په خپل کتاب (د شطرنج لویه دره) کې لیکلي دي چې دوی غوښتل چې شیعه او سني اورپکي تر خپلې ادارې لاندې راولي او د دوی په مټ په اوراسیا هېوادونو کې د شوروي اتحاد د پرمختګ مخه ډپ کړي. نوموړی زیاتوي: (په اصل کې، د اسلام د بیا استقرار مفکوره نه یوازې د ایران، بلکې د سعودي لخوا هم مخکې راپورته شوې وه او یو ډول نوی نشنلېزم یې منځته راوړی و، چې د شوروي اتحاد نفوذ یې د کافرانو نفوذ ګاڼه او له دې سره یې سخت مخالف کاوه.)
د دې لپاره چې شوروي اتحاد وځپي، امریکا اړتیا درلوده چې سره پوځ ته په افغانستان کې لومه کېږي. د دې موخې لپاره امریکا تصمیم ونیوه چې د ایران پاچا د قدرت له ګدۍ راکوز کړي او پر ځای یې خمیني کېنوي.
د امریکا څېړونکی ژورنالېست ډرایفېس په خپل کتاب (د شیطان لوبه) کې په دې بحث کوي چې: (امریکا څنګه له اسلامي بنسټ پالنې سره مرسته وکړله او امریکا څنګه د شیعه مذهب د پخواني نیمه سوې نسخې سره مرسته وکړه چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد پر وړاندې یې وکاروي.)
له یوې خوا شوروي اتحاد په افغانستان کې په هغه لومه کې بند پاتې شو چې امریکا ورته اېښودلې وه او له بلې خوا کرملېن په دې کې پاتې راغی چې له امریکا سره د هستوي وسلو په جوړولو کې سیالي وکړي؛ دا هغه وخت خورا مهمه موضوع وه او په دې سره ورو ورو د یوې امپراطورۍ ټغر په ټولېدو شو.
د شوروي اتحاد تر مرګ وروسته، امریکا په نړۍ کې د یوازیني لوی ځواک په توګه څرګنده شوه او د طالبانو، القاعدې او نورو جهادي ډلو ځپل او له منځه تلل د امریکا د ستراتیژۍ لپاره یوه اندېښنه پیدا کړله. برېژنسکي د افغان جهاد له امله د توندلاربتوب د پیداېښت د نیوکو په اړه داسې وایي: د نړۍ د تاریخ لپاره څه شی زیات مهم دي؟ طالبان کې د شوروي اتحاد رانسکورول؟ څو احساساتي مسلمانان او که د مرکزي اورپا ازادول او د سړې جګړې پای ته رسول؟
هغه پوښتنه چې دلته راپورته کېږي دا ده چې ایا د سړې جګړې پر مهال د سعودي عربستان، ایران او پاکستان مشران د امریکا د لوی پلان په پلي کولو کې، چې شوروي اتحاد ته ماتې ورکړي، شریکان وو؟. محمد بن سلمان په خورا څرګندو ټکو سره وایي چې  د یادو درېیو اسلامي هېوادونو مشرتابه نه یوازې د امریکا ملګري وو، بلکې له امریکا سره یې دومره تودې اړیکې درلودې چې نوره ورباندې خبره نه شي کېدی.

دا څرګنده خبره ده چې د ۲۰۰۱ز کال د سېپټمبر د ۱۱مې له پېښې وروسته امریکا بېرته د دې هڅې پیل کړې چې وهابېزم یو ځل بیا ځینو هېوادونو ته خپور کړي او هڅې یې کړې دي چې اسلامي هېوادونو له اسلامي تولنړ بې برخې کړي.  په هر حال دغه اقداماتو دوه بېل غبرګونونه درلودل، په ځانګړې توګه په سعودي عربستان کې، چې دواړو پاچاهانو؛ فهد او عبدالله دا چوپړ کړی دی چې وهابي جوړښت غلی کړي. د عرب پسرلي پایله او همدارنګه د شهزاده په توګه د محمد بن سلمان اقتدار امریکایي پلان ته یوه نوې ساه پوه کړله څو اسلام له سعودي څخه محوه کړي. د سېکولر کولو خواته د محمد بن سلمان چټګو ګامونو نورې پوښتنې راپورته کړې دي او هغه دا چې ایا دا یوه طبیعي مبارزه او جګړه ده او که د غرب لخوا یو بل قرارداد دی؟ د دې پوښتنې ځواب د الله سبحانه و تعالی په لاندې قول کې دی:

**﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيدًا﴾**

[نساء: ٦٠]

*ایا هغه کسان نه ګورې چې داسې انګېري چې ګواکې دوی په هغه څه چې پر تا مو نازل کړي دي او همدارنګه پر هغه څه چې تر تا د مخه مو نازل کړي دي ایمان راوړی دی، دوی غواړي چې په طاغوت باندې حاکمیت وکړي، په داسې حال کې چې دوی ته امر شوی دی چې له طاغوته منکر شي او شیطان غواړي دوی په لویه ګمراهۍ سره ګمراه کړي.*

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**د عبدالمجید بهاتي لیکنه**

**ژباړه: احمد ولي وردک**

**۲۰۱۸، د مې ۱۰مه**

**ماخذونه:**

[1] https://tribune.com.pk/story/1672777/3-wahhabism-spread-behest-west-cold-war-mohammed-bin-salman/

[2] http://www.azquotes.com/quote/654880

[3] http://americanempireproject.com/devils-game/